AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبد الغفور لیوال

۲۰۱۸/۰۹/۰۷

# موږ،

# لاهم په شپاړسمه پېړۍ کې ژوند کوو

قلموالو!

له بابولالو څه نه جوړيږي:

له تاريخي پلوه، د ښکېلاک په وړاندې تولېد شوي ادبيات په دوو دورو وېشل کيږي:

۱- اول ډول ادبيات:

له ښکېلاک څخه ګیلې، شکايتونه، ښکنځلې او فريادونه ول. په دې دوره کې به د ښکېل ملتونو پر رنځونو، دردونو او چيغو تمرکز کېده، له ښکېلاککرو څخه به عاطفي تمې کېدې او پوښتل به يې چې ولې داسې ظالمان دي؟ دغو ادبياتو به کله کله خپل خلک د ښکېلاک پر ضد قربانۍ ته هم هڅول.

۲- دوهم ډول ادبيات:

پر ځان رامتمرکز ادبيات ول. په دې دوره کې به هڅه کېده، چې د ښکېل ولسونو د کمزورۍ لاملونه وپېژندل شي او د ځان پياوړتيا لپاره عمل کول وهڅول شي.

په دې ادبياتو کې به د ځواک هغه وسايل ښوول کېدل، چې ښکېلاککر يې کاروي او ښکېل شوي يې نه لري. په دې دوره کې بېځايه قرباني ورکول حماقت بلل کېده . دا دوره عقلاني وه، نه احساساتي او تشه عاطفي. علم، عمل او تدبير غوره ګڼل کېدل، ولس قربانۍ ته نه، بلکې راتولېدو او ځواکمن کېدو ته رابلل کېده. مرګ خپل ځای ژوند ته پرېښوده. ( ژوند) او (انسان ) په کې لوی ارزښتونه ګڼل کېدل. جمعي خرد او لوړ سياسي شعور جوړېده او ملت دومره پرځان بسيا کېده، چې د ښکېلاک ستړه نه، بلکې د ښکېلاک ريښې يې له منځه وړلې.

موږ دوهم دورته لاهم نه يو ننوتلي. موږ دوهم ډول ادبيات نه دي پنځولي، موږ لاهم د شکايت، چيغو او فريادونو په زمانه کې ژوند کوو. موږ پرځان بسيانه لا بيخي پېژنو هم نه

موږ له ښکېلاک څخه د رحم و عاطفي هيله کوو، موږ تش په نامه خپلواکي د خپلو ماشومانو او تور سرو په حلالولو کې لټوو...

**موږ،**

**لاهم په شپاړسمه پېړۍ کې ژوند کوو.**

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ